بسم الله الرحمن الرحيم

# په اسلامي نړۍ کې ویل کېږي چې شریعت نه عملي کېږي

**خبر:**

دغه اصلاحات چې د سعودي عربستان د پاچا سلمان او د نوموړي د زوی (ولیعهد محمد) له خوا ورته اقدام شوی، د قضا په ګډون د ژوند هره برخه په نظر کې نیسي. په تېرو نږدې وختونو کې د یاد هېواد سترې محکمې د شریعت د جزا د له منځه وړلو لپاره قانون جوړ کړ، تر څو هغه خلک چې د زناکولو له امله په درو وهل کېږي، یا د الکول خوړلو او یا هم د غلا کولو له امله سزا ورکول کېږي باید وبښل شي. (سرچینه:islamnews.ru)

**تبصره:**

له یادو پېښو څخه معلومېږي چې سعودي عربستان د ډیموکراسۍ په پلوۍ د شریعت د قانون له تطبیق څخه ځان ګوښه کوي. په اصل کې هغه ادعاوې چې د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې د شریعت د قانون عملي کولو تر شعار لاندې کېږي یوازې تش په نامه خبرې دي. په ځانګړي ډول د پاکستان او ایران اسلامي جمهوریتونه او د سعودي عربستان پاچاهي یې ښه مثالونه دي. همدارنګه سوډان، افغانستان او شمال لویدیځې افریقا او داسې نور هېوادونه د یادولو وړ دي.

دغه ارزښت لرونکی یاددښت د دغه داستان عیبونه په ډاګه کوي، چې هر هېواد يې د اداري او اقتصادي سیستم له مخې ښه مشخص کېږي. د حکومتونو د بېلابېلو څانګو او د دوی د قدرتونو تعریف داسې دی چې د هېواد مشر او د نومورې د انتخاب مودې سرچینه مقننه قوه ده، مهمه اقتصادي ستونزه د دارایۍ ډولونه دي، د هېواد د پیسو پلان یوازې د معیارونو په وېشلو سره رامنځ ته کېږي چې په دغه کار سره باید په هېواد کې د شریعت لپاره اړتیا وسنجول شي.

دا ناسمه ده چې شریعت د یو جدا عنصر په ډول او یا له نورو قوانینو سره د یو برابر قانون په ډول ومنل شي. سربېره پردې ړیره حتا پنځه وخته لمونځ هم د اسلامي نړۍ د مشرانو له عاداتو پرته بل څه نه دي، لنډه دا چې د اسلامي نړۍ د رهبرانو هېڅ عمل له شریعت سره برابر نه دی. د متحده ایالاتو سیاسي سیستم هم د مسیحیت پر اساس نه دی، حتی د متحده ایالتونو ولسمشر پر انجیل باندې قسم یادوي. دغه تش په نامه له نومونو سره لکه د ایران او پاکستان سره د اسلامي جمهوریت تړل د یادو هېوادونو سیاست دی چې په عام ډول وښيي چې اسلامي هېوادونه دي. تر اوسه پورې مقننه قوه د شریعت نه، بلکې د پارلمان په واک کې ده لکه څنګه چې د اسلام خوښه ده داسې نه ده.

که سعودي عربستان ته راوګرځو، نو دا به کافي وي چې ووایو، په اساساتو کې اسلام د حکومتدارۍ سلطنتي سیستم منع کړی دی. پر اسلامي شریعت بنا هېواد ته د پاچاهۍ سیستم نه دی روا. مګر زه دوه ډېر ساده مثالونه درته بیانوم: د معلوماتو پر اساس له ۲۰۱٦ م کال څخه راپه دېخوا سعودي عربستان په امریکا کې د خپلو قرضونو ٪۲۰ طلا او یا هم بهرنۍ تبادلې ذخیره ترلاسه کړې ده. موږ د امریکا د دولت قرضونو د خوندیتوب په هکله د مشخصې ګټې پر نرخ خبره کوو.

هو! تاسې به اورېدلي وي چې دغه هېوادونه چې ځانته واحدپرستان هم وايي، د سود له لارې ګټه لاسته راوړي، چې سود قران او سنتو په واسطه په ښکاره ډول منع شوی دی.

لاندې مثالونه د ځينو هېوادونو د بهرني سياست په هکله وړاندې کوم چې ياد هېوادونه په ښه ډول واضح کوي. تاسو فکر کولو چې په ۲۰۱۱م کال کې په مصر کې د انقلاب پر وخت سعودي له مرسي څخه ملاتړ کولو، مګر داسې خبره نه وه. سعودي عربستان له دېکتاتور حسن مبارک څخه هم ملاتړ کولو. وروسته له دې چې مرسي واک په لاس کې واخيست، نوموړي خپل حکومت له لاسه ورکړی و. مګر کله چې په ۲۰۱۳ م کال کې د پوځ په لاس له واک څخه لرې شو، نو سعودي عربستان هم خپل ملاتړ د مصر له نوي فرعون الفتاح السيسي څخه اعلان کړ. دا د لمر په څېر يو روښانه حقيقت دی چې په منځني ختيځ کې سعودي د امريکا يو وفاداره متحد دی.

**پايله:**

په اسلامي نړۍ کې هېڅ کوم هېواد نشته چې په پوره ډول د الله سبحانه وتعالی شريعت عملي کړي. ټول تش په نامه اسلامي هېوادونه که مخکې تېرشوي او يا اوس موجود دي لکه سېکولر ډيموکراسی، پاچاهۍ او جمهوريتونه د شريعت له ځينو ځانګړو قوانينو څخه پرته يې په پوره ډول شريعت نه دی عملي کړی.

دغه ناسم ويل چې د نورو ناسمو تعبيرونو څخه رامنځ ته شوي او بيا يې په اسلام پورې ورتړلي دي، چې نن ورځ يې اسلامي نړۍ له پرمختګ څخه وروسته پاتې کړې ده. همدارنګه په اصل کې اسلامي نړۍ د عثماني خلافت له سقوط څخه وروسته (۱۹۲۴م) کال څخه راپه دېخوا د اسلامي شريعت قانون هېڅ کله هم نه دی عملي کړی.

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

لیکوال: فاضل

په اکراین کې د حزب التحریر د مطبوعاتي دفتر رئیس

۱۴۴۱ هـ .ق کال، د رمضان اتمه

۲۰۲۰ م کال، د مې لومړۍ